# ډرون حملې او د ډرون تاریخ

مشتاق مجروح یوسفزے

کله چې امریکې په افغانستان کښې د طالبانو حکومت ختم کړو نو ګڼ شمېر عسکریت پسند د افغانستان نه د پښتونخوا قبائلي سیمې وزیرستان ته راواوړېدل او دغلته ورله مقامي خلقو پناه ورکړه نو د دغه ځائے نه ئې یو خوا په افغانستان کښې او بل پله په پاکستان کښې دننه د خودکُش حملو یوه سلسله شروع کړه. وخت په وخت د حکومت له اړخه دې خلقو سره ځنې معاهدې هم وشوې ولې سودمندې ثابتې نۀ شوې او دغه وجه وه چې په ټوله صوبه کښې حالات ډېر زیات خراب شو.

بل خوا په افغانستان کښې د نېټو په فورسونو د دې عسکریت خوښو حملو امریکه په دې مجبوره کړه چې د دوي خلاف د پاکستان په مرسته کارروائي شروع کړي. نو هغوي په وړومبي ځل په وزیرستان د ډرون حملو سلسله شروع کړه چې تراوسه جاري ده او په نتیجه کښې ئې ګڼ شمېر عسکریت پسند کمانډران چې عرب، چیچن، ازبک او تاجک وو، قتل کړے شو. دلته په پاکستان کښې ځنې خلقو د دې ډرون حملو په دې وجه مخالفت شروع کړو چې په دې ډرون حملو کښې بې ګناه خلق وژلي شي او دې سره په عامو خلقو کښې هم د امریکې او هم د خپل حکومت خلاف د نفرت جذبه شدت مومي. چا به وئیل چې ډرون حملې زمونږ په وقار او خودداري د حملو مترادف دي. ځنې دانشورانو او تجزیه نګارانو دا موقف خپل کړے ؤ چې ډرون حملې ضروري دي ځکه چې تراوسه په دې ډرون حملو کښې هیڅ یو بې ګناه تن نۀ دے وژلے شوے. ځکه چې په ډرون حملو کښې اصلي هدف په نخښه کولے شي. د عسکریت پسندو د مشرانو په شمول چې کوم خلق د ډرون حملو ښکار کېږي نو هغه یا خو مقامي عسکریت پسند وي یا هغوي له پناه او مرسته ورکونکي خلق وي. د ډرون حملو حمایت کونکو دا هم وئیل چې کوم خلق د ډرون حملو په زور او شور سره مخالفت کوي نو دوي د عسکریت پسندو د هغو خودکُش حملو په دومره زور او شور مخالفت ولې نۀ کوي چې پکښې بې ګناه خلق وژلي شي او د څو کالو نه ئې د پښتونخوا ټول خلق د ویرې او ترهې سره مخ کړي دي، هیڅوک ځان محفوظ نۀ ګڼي.



دغه قسمه صورت حال په سوات او ملاکنډ کښې هم جوړ شوے ؤ، سکولونه تباه کولے شو، سرکاري املاکو ته نقصان رسولے شو تر دې چې د پولیس، ملېشې سره به عام خلق لکه د څناورو ذبح کولے شو. په ظاهره خو د سوات دغې عسکریت پسندو د شریعت د نفاذ مطالبه کوله خو کله چې د اې این پي حکومت دوي سره معاهده وکړه او د شریعت د نفاذ اعلان ئې وکړو نو هغه معاهده دوي ماته کړه. هغه وخت هم په ملک کښې ځنې خلقو په دې کلام افشانۍ شروع کړې وې چې یوې سیکولر ډلې د شریعت د نفاذ اعلان ولې وکړو؟ خو کله چې عسکریت پسندو بونېر او دیر پله هم مخه وکړه او په سیکیورټي فورسز ئې حملو ته دوام ورکړو نو حکومت مجبور شو چې د حکومتي رټ قائمولو دپاره د طاقت استعمال وکړي ځکه چې په ظاهره بله هیڅ لاره په نظر نۀ راتله. کله چې د فوځي اپریشن اعلان وشو نو بیا د ملک ځنو هغو سیاسي ډلو چې د پښتونخوا حکومت د دې قدم وچتولو نه وړاندې په اعتماد کښې اخستې وې، چغې شروع کړې چې د طاقت استعمال ښۀ نۀ دے پکار ده چې د خبرو اترو د لارې دا مسئله هواره کړې شي.

د پښتونخوا حکومت لکه چې ټولو خلقو ته معلومه ده د امن په نوم ووټ اخستے ؤ او د هغوي دا کوشش ؤ چې په پښتنه سیمه کښې امن راولي.



په حکومت کښې د راتلو نه سمدستي پس اې این پي د فهم او دانش مظاهره وکړه او د خبرو اترو لاره ئې غوره کړه. خو چې کله د خبرو په نتیجه کښې شوې معاهده عسکریت پسندو پامال کړه نو بیا د پښتونخوا حکومت مجبوره ؤ چې د وفاق نه امداد وغواړي او دا مسئله د طاقت په ذریعه هواره کړي ځکه چې بې د دې نه د حکومتي رټ قائمولو او د خلقو د ځان او مال محفوظولو بله لاره پاتې نۀ وه. د پښتو ستر شاعر خوشحال بابا ډېر پخوا هم دا طریقه په دې الفاظو کښې ښودلې وه چې:

رخنه ګر د ملک پرې مۀ ږده په خپل ملک کښې
په حکمت په زر او زور په لښکرونه

نو لکه څنګه چې د دې ملک ځنو تجزیه نګارانو او دانشورانو د سوات اپریشن مخالفت کولو دغه شان ډېر داسې دي چې د ډرون حملو غندنه کوي او د عسکریت پسندۍ د دې لویې مسئلې او د حکومتي رټ قائمولو ورسره هیڅ حل او لاره نشته.

د ډرون حملو نه پس په عام اولس کښې د ډرون متعلق تجسس ورځ تر ورځه زیاتېږي ځکه نو ضروري ګڼم چې د ډرون په حقله ځنې معلومات لوستونکو ته ورکړم.

د پاکستان خلق د کلاشنکوف، سټنګر میزائل او ګن شپ هیلي کاپټر په شان تباهي او بربادي راوستونکو وسلو سره د نولس سوه اتیایم نه اشنا

شوي دي کله چې د امریکې په ایماء په افغانستان د سوویت یونین د قبضې خلاف جهاد شروع شو.

په کال ۲۰۰۱ کښې په افغانستان د امریکې حملې د پاکستان خلق د دې نه هم زیاتو خطرناکو وسلو او بمونو لکه ډیزي کټر، بنکر بسټر، کروز مزائل، شنوک هیلي کاپټرو، ډرون او په هغې کښې لګېدلو هیل فائر میزائلو سره هم اشنا کړل. نن په پاکستان کښې داسې هیڅ یو تن به نهٔ وي چې هغه به د ډرون نه واقف نهٔ وي.

ډرون هغې جهاز ته وئیلے شي چې پائلټ پکښې نهٔ وي د دې جهاز دپاره د امریکې فوځ د انګرېزۍ یو ټکے مېل Male استعمالوي چې ترجمه ئې نر ده. په اصل کښې دا د مېډیم ایلټیټوډ لانګ اېنډورینس مخفف دے. اول اول به بغېر پائلټ نه جهاز یا پریډیټر د دښمن علاقو ته د فضائي جاسوسۍ دپاره یا د نګرانۍ کولو دپاره جوړولے شو. خو وروستو په دې جي ایم هیل فائر میزائل هم ولګولي شو.

په کال ۱۹۹۵ کښې دا ډرون د امریکې په استعمال کښې وو او د افغانستان او د پاکستان په قبائلي علاقو کښې د استعمالولو نه وړاندې هغوي دا په بوسنیا، سربیا، عراق او یمن کښې استعمال کړې وو.

ډرون صرف یو جهاز نهٔ دے بلکې دا یو پوره نظام دے او په دې نظام کښې څلور جهازونه، یو زمکنے کنټرول سټېشن او د دې د سټېلائټ سره منسلک کېدونکې برخه وي او د دې نظام چلولو دپاره پینځهٔ پنځوس تنه پکار وي.



پېنټاګون او سي آئي اې د نولس سوه اتیایم په شروع کښې د جاسوسۍ دپاره دا ډرون استعمالول. په کال ۱۹۹۰ کښې د سي آئي اې د ابراهم کیرم په جوړ کړي ډرون کښې دلچسپي پېدا شوه. ابراهم کیرم د اسرائیلي فضائیې چیف ډیزائنر ؤ چې وروستو امریکې ته تللے ؤ.

ډرون په ۱۹۹۰ کښې د مختلفو تجربو نه تېرېدو او په ۱۹۹۵ کښې په وړومبي ځل په بالکان کښې د دې د استعمالولو فېصله وکړې شوه.

د ډرون بنیادي کار جاسوسي او اهداف په نخښه کول دي، د دې جوړونکي جنرل اټامکس ائروناټیکل سسټم انکارپورېټډ دے، انجن ئې روټیکس ۹۱٤ ایف څلور سلنډره، او طاقت ئې ۱۱۵ هارس پاور، د وزرو خوروالے ئې ٦،٤٨ فټ دے، اوږدوالے ئې ۲۷ فټه او وچتوالے ئې ۹،٦فټ دے. وزن ئې ۱۱۰۳ پاؤنډ او د الوت وزن ئې ۲۲۵۰ پاؤنډ دے. د تېلو ګنجائش پکښې ٦٦٥



پاؤنډه. رفتار ئې د څلور اتیا میله نه واخله تر یو سل
پینځۀ دېرش میله فی ګېنټه دے. او ویشتل تر ۴۴۵
میل پورې کولے شي، د پرواز وچتوالے ئې ۲۵۰۰۰
فټه دے او دوه لېزر ګائیډډ میزائل لري.